AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ

۲۰۲۰/۰۸۹/۰۴

# طالبان امارت غواړي حکومت جمهوريت،

## څه به کيږي؟

په ۱۲۱۶ز کال کې ما يوه ليکنه ليکلي وه چې سرليک يې ؤ **(سوله د هوسۍ په ښکرو کې)** په هغه ليکنه کې مو د سولې ټولې هلې ځلې د حکومت په زيان او د طالبانو او پاکستان په ګټه بللي وې او حکومت ته مو وړانديز کړی ؤ چې: د دې پر ځای چې افغان حکومت د سولې پر خبرو باندې ځان وغولوي، خپل امنيتي او استخباراتي، په ځانګړې توګه هوايي ځواکونه دې پياوړي کړي، خپل وخت دې په دا ډول بې مانا او بې پايلو خبرو باندې نه ضايع کوي، (په افغانستان کې سوله د هوسۍ په ښکرو کې ده) امکان نه لري چې دا ډول خبرې نتيجه ورکړي، تر هغې چې په افغانستان کې پاکستان پلوه او ګوډاګی حکومت نه وي رامنځ ته شوی دا جګړې به روانې وي، له تېرو څلورو لسيزو تجربو څخه دې ګټه واخيستل شي، د ډاکټر نجيت الله د حکومت او پاکستان تر منځ د سولې پايلې دې يو ځل بيا وکتل شي چې يوازې د کاغذونو پر مخ باندې توري کرښې وې، په عمل کې هېڅ نه وو چې په پای کې د هماغه (هوايي سولې) له امله د ډاکټر نجيب الله حکومت له منځه ولاړ.

هغه مهال چې د ډاکټر نجيب الله حکومت او پاکستان تر منځ د ژنيو تړون لاس ليک کيده نو جهادي تنظيمونو ته د ګډون حق ورنه کړای شو چې له امله يې له ذلت او مايوسۍ سره مخ شول. اوس برعکس افغان حکومت ته د امريکايانو او طالبانو له خوا په ډېر سپک نظر وکتل شول، چې د دوحې په تړون کې هېڅ ونډه ورنه کړل شوه، امريکايانو طالبان په حقيقت کې د پېژندل شوي او قانوني حکومت او د خپل سيال په توګه ومنل، خو برعکس افغان حکومت ته يې چې د طالبانو په پرتله ځواکمن او منظم دی د دوو پيسو ارزښت هم ور نه کړ، ښاغلي اشرف غني ونه کړی شول چې لږ تر لږه افغان حکومت له طالبانو سره په يوه رديف کې ودروي، امريکايان ښاغلي غني ته د يو بې ځواکه او بې تدبيره کس په سترګه ګوري د خبرو پر مهال بې نتيجې چيغې وهې او دومره سره ټينګ شي چې ته به وايي سره وچاوده. ډېره د خواشنۍ خبره ده چې د افغان ولس برخليک د داسې کسانو په لاس کې دی چې د سولې او تسليمۍ په تعريف نه پوهيږي.

اوس خبره په دې کې ده چې د طالبانو پر وړاندې د ښاغلي اشرف غني او ډاکټر عبدالله د سولې سياست خورا ضعيف دی تر دې چې دا ډول دريځ د تسليمۍ په مانا دی چې په وړاندې يې د طالبانو سياست بريالی دی، داسې چې:
طالبان افغان حکومت په رسميت نه پېژني، هره ورځ وژونکي بريدونه کوي خلک وژني د سولې پلاوي ردوي او...
خو حکومت يې په ځواب کې د طالبانو بنديان خوشي کوي او د طالبانو غوښتنې په پټو سترګو مني، حکومت دومره ونه شول کړی چې وړاندې د بنديانو له خوشي کيدو څخه پر طالبانو باندې يو ډول اوربند ومني، ورځ تر بلې امنيتي وضعيت په خرابيدو دی، د طالبانو مورال لوړ خو د ولسمشر غني او يارانو مورال يې ضعيف دی ښاغلي غني ذهني ماتې خوړلې ده، له بده مرغه چې د ده د ماتې له کبله به د افغان اتلس کلن حکومتي بنسټونه مات شي.

د ښاغلي غني دنورو کمزوريو سره، سره لويه غلطي دا ده چې د سولې کميسون مشري يې د طالبانو لومړۍ درجه دښمن او د اشغالګرو لومړی درجه غلام او لاس پوڅي ډاکټر عبدالله ته ورسپارلې ده، چې نه د افغانستان خاورې او نه افغان ملت ته ژمن دی، بله دا چې د سولې په پلاوي کې ډېر کسان د طالبانو دښمنانان او معلوم الحاله قاتلان ګمارل شوي دي، ايا دا امکان لري چې قاتل پر خپل وژل شوي دښمن وژاړي؟

ايا دا امکان لري چې طالبان پر خپلو دښمنانو باندې د منځګړو په توګه باور وکړي؟ اصل خبره دا ده چې طالبان اسلامي امارت غواړي او حکومت جمهوريت، طالبان انتخابي او جمهوري حکومتونه کفري سيستم بولي دوی هېڅ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کله هم له خپلو غوښتنو چې لومړۍ غوښتنه یې د اسلامي امارت ده نه تېرېږي چې له امله یې سوله ناشوني کېږي او جګړه به دوام وکړي چې د افغانانو وینې به همداسې رواني وي.
امریکایانو په افغانستان کې اور بل کړ، ډېر خلک یې ووژل، اوس یې دا سوزوونکی اور افغانانو ته پرېښود او په خپله د منډې په حال کې دي، امریکایانو په خپل تاریخ کې ډېر ځله خپل ملګري په ډېره ناځوانه توګه په میدان کې د دښمن منګولو ته پرېښي دي چې یوه بېلګه یې د جنوبي ویتنام ده، دغه ډول یې ګُردان څو څو ځلې خپلو دښمنانو ته په لاس ورکړل، یوه ورځ مې (سپې وفادار دي که امریکایي سیاستوال؟) تر سرلیک لاندې د کُردانو یو تن خبرې له خبري رسنیو واورېدې چې زه یې په نړۍ او افغانستان کې د دوی ناځوانی او د دوی لیونیو منډو ته متوجه کړم.
امریکایان په ویتنام کې ۱۶ کاله وجګړیدل (۱۹۵۹- ۱۹۷۵) په پای کې یې جګړه (ویتنامي) کړه، جګړه یې جنوبي او شمالي ویتنام ته پرېښوده، له جنوبي ویتنام سره یې مرستې کولې خو بالاخره شمالي ویتنام پر جنوبي ویتنام بریالی شو. امریکایان غواړي د ویتنام په شان په افغانستان کې جګړه افغاني کړي او خپلې پښې سپکې کړي.
هر څه چې پېښیږي هغه به پېښیږي خو په پای کې به د دغه بې سره او بې پښو حکومت برخلیک د امریکایانو د ناوړه  او ناکام سیاست له امله او له ډول، ډول ناخوالو او وژنو وروسته د ډاکټر نجیب الله د حکومت او جنوبي ویتنام په څېر وي.
خو که غربیان او امریکا په خپل سیاست کې بدلون راولي، پاکستان تر سختو اقتصادي او نظامي فشارونو لاندې راولي او افغان حکومت سره پوځي او اقتصادي مرستې وکړي او د طالبانو پر وړاندې خپل کمزوری دریځ پیاوړی کړي نو دغه اتلس کلنې لاس ته راوړنې به له منځه نه ځي او د یوې هر اړخیزې، عادلانه او پتمنې سولې امکان شته.

درناوی
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ